Steps to Justice
Your guide to law in Ontario

Refugee Law

## زه څنګه ویلی شم چې زما دمهاجرت یا د کډوالۍ قانوني استازی/ وکیل د باور وړ دی؟

د مهاجرت یا کډوالۍ قانونپوه یا استازي غوره کول خورا مهم دي. ځینې وختونه هغه خلک چې د قانوني مرستې وړاندیز کوي ددې کار د کولو وړندي. دوی کولای شي ستاسو څخه د خدمت یا کارکولو پرته پیسې واخلي او کار مو ونه کړي. ځینې وختونه دوی یوازې ستاسو پیسې اخلي.

د مهاجرت او کډوالو قانون خورا پیچلی دی. ځینې غلطۍ کولای شي جدي ستونزې رامنځ ته کړي. د مثال په توګه کېدای شی تاسو ونشی کولی چې په کاناډا کې پاتې شی او یا د کورنۍ غړي مو دلته راولی ترڅو تاسو سره یوځای شی.

دا مهمه ده چې تاسو یو "مجاز استازی" وګمارئ. په آنتاریو کې یو باوري استازی باید دغه ځانګړتیاوی ولری:

- وکیل یا پارالیګل چې د انتاریو حقوق پوهانو د ټولنې (LSO) [Law Society of Ontario] لخوا جواز ولري یا
- د کډوالۍ یو سلاکاروی چې چې د کاناډا د مهاجرتی سلاکارانو د تنظیمي شورا [Immigration Consultants of Canada Regulatory Council (ICCRC)] سره راجستر وي.

د LSO ویبپاڼه یا د ICCRC ویبپاڼه وګوری ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې دغه کس برحاله جواز ولري او د جواز د تعلیق ستونځه ونلري.

یو مجاز استازی کولی شي تاسو سره د سپانسرشیپونو، د کډوالۍ غوښتنلیکونو، او دایمي استوګنې یا لندمهاله حالت لپاره غوښتنلیکونو کې مرسته وکړي، لکه کار ، زده کړی، یا د لنډ مهاله اوسیدنې قرارداد.

ځینې وختونه ملګري یا د کورنۍ غړي ښايي ستاسو د غوښتنلیک په اړه تاسو ته سلا درکړي. خو دا مهه ده چې د هغه چا څخه مرسته ترلاسه کړی څوک چې:

- روزل شوی او د کډوالۍ او کډوالو قانون وپېژني
- اجازه ولري چې قانوني مرسته درسره وکړي چې تاسو ورته اړتیا لرئ. یو مجازاستازی د جواز ورکولو اداري څخه د غړیتوب شمیره لري. تاسو کولی شی د دې شمیرې د لیدلو غوښتنه وکړئ.

د **کډوالۍ غوښتنلیک** لپاره د قانوني مرستې ترلاسه کولو په اړه دلته ولولئ [Where can I get legal advice and help with my refugee claim?]

په کاناډا کې د **کډوالۍ وضعیت** په اړه د قانوني سلا ترلاسه کولو د معلوماتولپاره دلته ولولئ [Where can I get legal advice about immigration status in Canada?]

د مسلم حقوقي ملاتړ مرکز/ Muslim Legal Support Centre د ثبت فورمه لري چې تاسو یې ډکولی شی ترڅو قانوني خدمتونو ادارو ته راجع شي. تاسو کولی شی **416-350-2914** ته هم زنګ ووهی ترڅو د یو چا لپاره پیغام پریږدی چې تاسو ته ټیلیفون وکړي.

## د مرستی د لټولو په وخت کې د درغلۍ د مخنیوي لپاره لارښوونې:

تاسو د درغلۍ قرباني یاست که:

- تاسو د هغه خدمت لپاره پیسې ورکړي دی چې تاسو ندي ترلاسه کړي.
- تاسو یو څوک ګمارلی وو چې د هغه څه په اړه یې دروغ ویلي چې دوی کولی شي او ستاسو پیسې ترلاسه کړي.

درغلي دواړه په کاناډا دننه او بهر پیښېدای شي. د کاناډا څخه بهر د درغلیو پروړاندې د ځان ساتل ګران دي. او د درغلیو په قضیو کې مرسته محدوده ده. په کاناډا کې تاسو کولی شئ درغلي راپور دلته ورکړئ:

رائل کاناډا ماونټډ پولیس Royal Canadian Mounted Police کاناډا د درغلۍ ضد مرکز [Canadian Anti-Fraud Centre](Canadian Anti-Fraud Centre)

وړیاشمیره: 1-888-495-8501

دا سخته ده چې خپلې پیسې بېرته ترلاسه کړئ که چیرته تاسو د درغلۍ قرباني شی. دلته ځینې لارښووني دي چې تاسو سره د درغلیوپه مخنیوي کې مرسته کوي او د باور وړ قانوني استازی ګمارلې شی.

**راتلونکې ګامونه**

**١ . ډاډ ترلاسه کړئ چې شخص په کاناډا کې فعالیت لري**

د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه کړی چی ستاسوقانونی استازی او یا هغه څوک چې تاسو سره د مرستې وړاندیز کوي په

- کاناډا کې میشت دی ، تاسو باید:
- د دوی د ویب پاڼې پته وګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې په پای کې یې ca. دې
- وګورئ چې ستاسو د براوزر پته بار کې ادرس دهغه پته سره سمون خوري چې تاسو لیکلې ده
- ویب پاڼه یې وګورئ ترڅو وپوهیږئ چې ایا په کاناډا کې یې دفتراود ټیلیفون شمیره شتون لري
- د دفتر پته یې وغواړئ او که اسو یې ونه موندی په انټرنیټ کې یې وپلټئ

دا یو ښه نظر دی چې د یو ریفرنس یا مرجع غوښتنه وکړئ. که تاسو د قانوني استازي په اړه د تبصرو لپاره آنلاین وپلټئ، ښايي تاسو ګټور معلومات هم ومومی.

وګوری چې آیا قانونپوه یا د قانونپوه مرستیال د آنټاریو د حقوق پوهانو د ټولنې [Law Society of Ontario](Law Society of Ontario) [لخوا جواز ولري او د نظم یا ډیسیپلین کومه ستونځه ونلري](لخوا جواز ولري او د نظم یا ډیسیپلین کومه ستونځه ونلري)

وګورئ چې د کډوالۍ کارپوه د [Immigration Consultants of Canada Regulatory Council (ICCRC)](Immigration Consultants of Canada Regulatory Council (ICCRC)) لخوا جواز لري او د نظم یا ډیسیپلین کومه ستونځه ونلري.

**.٢ له شخص سره خبرې وکړئ**

که امکان ولري ده هغه چا سره چې تاسوتو قانوني مرستې وړاندې کوي، د یوې د ناستې یا د ویډیو په مرسته د خبروبند و بست وکړئ. که دوی د ویډیویي خبرو سره موافق نه وي نو کیدای شي چې دا اندیښنې راپورته شي چې آیا دوی ریښتني دي. د دوی څخه پوښتنه وکړئ که چیرې فیس (حق الزحمه) شتون ولري. ځینې قانونپوهان د لومړۍ ناستې لپاره پیسې نه اخلي.

بعضې قانونپوهان فیس اخلي ترڅو تاسو سره ستاسو د وضعیت په اړه قانوني نظرشریک کړي. دا فیس معمولاً یوازې د هغه څه یوه برخه وي چې دوی به یې ستاسود مسلې لپاره له تاسو اخلی.

په لومړۍ ناسته کې، قانوني استازی باید:

- د قانوني ورته مسئلوپه باب ددوی تجربې
- دوی به ستاسو قضیه څنګه اداره کړي

- ستاسو د قضیې اړوند حقایق له تاسو څخه وغواړي
- قانون څنګه ستاسو په وضعیت اغیزه کوي
- ستاسو اختیارونه او صلاحیتونه
- د دوی په آند ستاسو قضیه به څومره وخت ونیسي
- بیا څه باید وکړی

که دوی دا معلومات نه درکوي، نو له دوی څخه یې وغواړئ.

### ۳. بده مشوره یا غلطې وعدې مه منئ

د هغه چا مرسته مه منئ چې:

- یو "خیالي استازی" کاروي یا تاسو ته وایي چې غوښتنلیک به ستاسو د نوم لاندې د استازي له نوم پرته وسپارل شي
- تاسو ته وایي چې دروغ ووایاست یا په خپل غوښتنلیک کې معلومات پوره ونه ولیکی
- درته ووایې چې تاسو غلط اسناد وکاروئ
- تاسو څخه غوښتنه کوي چې هغه فورمه لاسلیک کړئ چې خالي یا نامکمل وي کوم چې تاسو یې باید وسپاری
- تاسو ته د هرهغه څه چې لاسلیک کوی د ژباړلو وړاندیزنه کوي
- ستاسو پوښتنو ته ځواب نه درکوي، د اسنادو او فورمو کاپي نه درکوي، دا نه تشریح کوي چې دوی څه کوي.

تاسو باید یو بیان لاسلیک کړئ چې ستاسو په غوښتنلیک کې هرڅه ریښتیا دي. نو تاسو د هر هغه څه لپاره مسؤل یاست چې ستاسو قانوني استازی ستاسو په استازیتوب IRCC ته لیږي.

داسې مرسته مه منئ که څوک تاسو سره ستاسو دغوښتنلیک د بریالي کېدو ژمنه وکړي. هیڅ څوک نشي کولی ستاسو د قضیې پایلې تضمین کړي. دې ته موهم فکر اوسي که چیرې ووایې چې د کاناډا مهاجرت کډوالۍ او تابعیت سازمان یا د کاناډا سفارت کې ځانګړي اړیکې لري

### ۰۴ د فیسونو (حق الزحمی) په اړه پوښتنه وکړئ

ورڅخه د دوی د فیسونو په اړه پوښتنه وکړئ, د دغو پوښتنو په شمول :

- د دوی د یوساعت د فیس اندازه
- ستاسو د قضیې د احتمالي لګښت اندازه
- دوی به څو ځله تاسو ته د دوی د خدماتو لپاره بل درکوي
- تاسو د تادیاتو لپاره څومره پیسو ته اړتیا لرئ د مثال په توګه، د متخصص یا غوښتنلیک فیس
- هغه څه چې کولی شي لګښت لوړ کړي
- تاسو څنګه کولی شئ لګښت کم کړئ
- ایا دوی به ستاسوسره د تادیې (پیسې ورکولو) پلان رامینځته کولو لپاره مرسته وکړي؟
- مخکې له دې چې دوی ستاسو په قضیه کارپیل کړي تاسود څومره پیسو تادیې ته اړتیا لری؟

که تاسو دوی وګمارئ باید یو **لیکلی قرارداد** ترلاسه کړئ چې ځانګړي خدمات پکې لیکل شوي وي کوم چې به دوی تاسو ته وړاندې کوي اوټول فیس به یې څومره وي. د دې لپاره مهالویش وغواړئ چې دندې به کله بشپړې کیږي اوفیس به څنګه اخیستل کیږي؟ د ټولو تادیاتو لپاره چې تاسو یې کوی لاسلیک شوی رسید ترلاسه کړئ.

هغه څوک چې تاسو ېې ګمارې مخکې لدې چې دوی موافقه وکړي او په قضیه مو کار پیل کړي معمولاً له تاسو څخه له مخه دځه پیسو یا ډیپازیټ ( Deposit) غوښتنه کوي. دا ځینې وختونه د ضمانت یا ساتونکي په نوم یادیږي. که دوی له تاسو څخه د ډېرو پیسو غوښتنه وکړي مخکې له دې چې دوی ستاسو د وضعیت حقایق واوري، دا یوه نښه کېدای شي چې دوی د باور وړ ندي.

تاسو پوښتنه کولی شی چې:

- دا مخکې ورکړل شوي پیسې به څومره کار تر پوښښ لاندې راولي
- ایا دوی د تادیې پلان باندې موافق دي په هغه صورت کې چې تاسو ونشی کولی په یوځل کې د ډیپازیټ بشپړ مقدار تادیه کړی

که تاسوډیپازیټ تادیه کړی، رسید یې ترلاسه کړئ ترڅوهغه اندازه پیسی وښیې چې تاسو تادیه کړې دی. که ستاسو د قانوني کار ټول لګښت د تادیه شوي اندازی څخه کم وي، تاسو باید پاتی شوي اندازه پیسی بیرته ترلاسه کړی

د کاناډا د مهاجرت د اداری د غوښتنلیک د [پروسې فیس](#) تل په کاناډایي ډالرو وي او هیڅکله باید شخصي بانکی حساب ته تادیه نشي اویا د شخصي پیسو لیږدونکي شرکت له لارې ونه لیږدول شي. د هغه سلاکار او یا مهاجرت د استازی سره احتیاط وکړئ چې له تاسو څخه مستقیماً د فیس غوښتنه کوي، یا غوښتونکي پیسی په کاناډایي ډالروکې نه وي. که تاسو کریډیټ کارت نلرئ، نو ستاسو استازي کولی شی چې ستاسو د IRCC فیسونه د خپل کریډیټ کارت له لارې ورکړی، مګردا باید ستاسو په لیکلي ترون کې په روښانه ډول بیان شي او تاسو باید یو رسید ترلاسه کړئ چېIRCC ته تادیه تاییدوي.

### ۵ . خپل اصلي اسناد خوندي وساتی

د اصلي اسنادو په شریکولو کې احتیاط وکړئ، لکه ستاسو پاسپورت یا د هویت نور اسناد. تاسو باید وکولی شئ خپل قانوني استازي ته د دوی لپاره د اسنادو یوه کاپي ورکړی ترڅو تاسو ته د هغه غوښتنلیک په اړه قانوني نظر درکړي چې تاسو یې د اجرا هوډ لری. وروسته له دې چې تاسودمهاجرت او یا کډوالی فورمه او غوښتنلیک د کاناډا تابیعت او مهاجرت اداری ته ورکړی دغه اداره به ستاسو استازي ته ووایې که چیرې دوی غواړي ستاسو اصلي اسناد وګوري.

تاسو باید د خپل استازی د ټاکلو فورمه هم لاسلیک کړی. [Use of a Representative (IMM 5476)](#) که څوک ستاسو سره ستاسوغوښتنلیک بشپړولو کې مرسته کوي او:

- تاسوغواړی تر څو دوی وکولی شي [IRCC سره ستاسو په استازیتوب اړیکه ونیسي](#)، یا
- تاسو غواړی د خپل ماشوم، یا ستاسو کورواله سره مرسته وکړی، د دوی فورمې ډکې کړی او د دوی په استازیتوب د IRCC سره خبرې وکړی

### له IRCC سره په لاندې ډول اړیکه ونیسئ

IRCC تاسو ته د شخصي یا وړیا ایمیل پته څخه بریښنالیکونه نه لیږي د مثال په توګه yahoo. یا gmail. دوی دا هم نه غواړي چې تاسو دي ډول بریښنالیک پتي ته ځواب ووایاست

د IRCC ټول بریښنالیک پتي په لاندې ډول سره پای ته رسي:

@[cic.gc.ca](#)

@[canada.ca](#)

@[international.gc.ca](#)

@[notification.canada.ca](#)

که تاسو کوم بریښنالیکونه چې تاسو تا راځي په اړه یې کومه پوښتنه لرئ د عارض د مرستی مرکز IRCC Client Support Centre سره په لاندې شمیرې اړیکه ونیسئ: 1-613-321-4243

**اړونده پوښتنې:**

**حقوق ګامونه– چیرته کولی شم قانوني سلا ترلاسه کړم چې زماد کډوالۍ غوښتنلیک سره مرسته وکړي؟**
https://stepstojustice.ca/steps/refugee-law/find-legal-help/

**حقوق ګامونه– چیرته کولی شم زما د کډوالۍ وضعیت په اړه قانوني مشوره او مرسته ترلاسه کړم؟**
https://stepstojustice.ca/questions/immigration/where-can-i-get-legal-advice-about-immigration-status-canada/

**حقوق ګامونه– زه څرنګه د قانونپوه یا د قانونپوه مرستیال په اړه شکایت کولی شم؟**
https://stepstojustice.ca/questions/help-lawyers-and-paralegals/how-do-i-complain-about-lawyer-or-paralegal/

**سرچینې:**

یو وکیل غوره کړئ/ د وکیل د غوره کولو څرنګوالی
https://nonprofitlaw.cleo.on.ca/onca-legal-help/choosing-a-lawyer/

د کاناډا حکومت – څرنګه د کډوالۍ یا تابیعت حقوق استازی غوره کړئ؟
https://www.canada.ca/en/immigration-refugees-citizenship/services/immigration-citizenship-representative/choose.html

د مهاجرت له درغلیو څخه ځان وژغورئ
https://www.canada.ca/en/immigration-refugees-citizenship/services/immigration-citizenship-representative/choose.html

ایا زه باید د کډوالۍ سلاکار یا وکیل څخه زما د کډوالۍ غوښتنلیک کې مرسته ترلاسه کړم؟- Settlement.org
https://settlement.org/ontario/immigration-citizenship/immigrating-to-ontario/general-information-about-applying/should-i-get-help-with-my-immigration-application-from-an-immigration-consultant-or-lawyer/

**خدمات**

دلته د خدماتو لیست دی چې ممکن نورې مرستې او مشورې وړاندې کړي. ډیرډا خدمات یوازې په انګلیسي او فرانسوي ژبو کې شتون لري.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د CLEO ***عدالت ته ګامونو*** ته مراجعه وکړئ www.stepstojustice.ca په اونټاریو، کاناډا کې د وګړو لپاره دا عمومي قانوني معلومات دی. مقصد یې د د قانوني مشورې په توګه کارول نه دي.

CLEO Community Legal Education Ontario
Éducation juridique communautaire Ontario

بیاکتنه: د سپتمبر 28، 2021